# ماشومانو مقدس کتاب

## وړاندې کونکے



# د خدائ پاک رالیږلے شوے سړے


لیکونکے: Edward Hughes

خیال: Byron Unger; Lazarus
Alastair Paterson

خوښونکے: E. Frischbutter; Sarah S.

ترجمه کونکے: Aim4Faith Ministries



مددگار: Bible for Children
www.M1914.org



©2023 Bible for Children, Inc.
تاسو دا قیصئ نقل کولے شئ یا چاپ کولے شئ خو دا خرڅولے نۀ شئ.




یوه ورځ زکریا نومې یو بوډا سړې د خدائ پاک په کور کښې خوشبوئی سوزوله او بهر خلقو دعا کوله چې ناڅاپه زکریا په رپېدو شو او وېرې واخستلو.




یوه فرښته راغله او وئیل، یربېږه مه زهٔ خدائ پاک رالیږلی
یم. ستا د ښځې به یو زوئ کیږی. او تهٔ به هغهٔ باندې یوحنا
نوم کیږده. هغه د پېدایښت نه د روح القدوس
نه معموره وی. او هغه به ډېر
خلق د خدائ
پاک
طرف ته
را ووبلی.
3


بهر ولاړو خلقو ډېره په حېرانتیا سره ووییل چې زکریا
مونږ سره خبرې وکړه. ځکه چې هغوئ ته
پته نهٔ وه چې جبرائیل فرښتې هغهٔ ته
وئیلی وو چې د ماشوم تر پیدا کېدو
پورې به تهٔ خبرې نهٔ شې کولے،
ځکه چې هغهٔ د خدائ پاک
په پیغام باندې یقین
ونهٔ کړو.
4


او هغهٔ دا سوچ کولو چې د
هغهٔ ښځه خو بوډئ ده نو په
دې وجه باندې د هغې بچی
نهٔ شی پیدا کېدے.
5


هغه چې کور ته لاړو نو څهٔ چې ورته
فرښتې وئیلی وو نو هغه یې خپلې ښځې
الیشبع ته ووئیل او هغه په دې اورېدو باندې
حېرانه شوه. هغې به همېشه د بچو د پاره دعا
غوښتله. هغې وئیل چې داسې کېدل
ممکن دی؟
6


الیشبع ته ډېره زر دا پته
ولګېده چې هغه اُمیدواره
ده. او هغې د خدائ پاک
ثنا ووئیله. یوه ورځ مریم
چې د الیشبع رشته داره
ده الیشبع کره راغله. او
دغه وخت مریم هم
امیدواره وه.
7


چې کله مریم الیشبع سره ملاو شوه نو
الیشبع په ځان پوهه شوه چې د هغې په
خېټه کښې ماشوم حرکت وکړو
او الیشبع د روح القدوس
نه معموره وه. او هغې
ته پته وه چې د مریم پیدا
کېدونکے ماشوم عیسی
مسیح دے. هغوئ دواړو
د خدائ پاک حمد او
ثنا ووئیله.
8

لکه څنګه چې خدائ پاک
وعده کړې وه نو هم هغه شان
وشول او د اليشبع زوئ وشو.
نو خلقو ووئيل په هغه ماشوم
باندې د هغهٔ د پلار نوم
کېښودو، خو زکريا د خدائ
پاک حکم راياد شو.



9

خدائ پاک هغهٔ ته وئيلی وو چې
ته به دې ماشوم زکريا نه بلکې
يحيی نوم به کيږدې. او چې هغهٔ
ته دا داسې حکم شوے وو، نو
هم هغه وخت د هغهٔ خولهٔ کولاو
شوه او د خدائ پاک ثنا صفت
يې شروع کړو.



10

کله چې يوحنا لوئ شو نو هغه د
خدائ پاک د اعظيم خادم الياس
په شان وو. يوحنا به خلقو له دا
زيرے ورکولو چې عيسی مسيح
تاسو له د خلاصون درکولو د
پاره زر را روان دے.



11

د يهوديانو مشرانو به د يوحنا نه
نفرت کولو ځکه چې يوحنا به
هغوئ ته وئيل چې ګناه مهٔ کوئ،
او هغوئ به د خپلو ګناهونو په
باره کښې هيڅ يوه خبره هم نهٔ
اوريدله. او د خپلو ګناهونو نه به
نهٔ منې کېدل.



12

خلقو به هغهٔ ته يوحنا
بپتسمه ورکونکے
وئيل، ځکه چې څوک
به خپلو ګناهونو باندې
پښېمانه شول نو هغهٔ به
هغوئ له په اوبو باندې
بپتسمه ورکوله.



13

يوه ورځ عيسی يوحنا بپتسمه ورکونکی خواته راغلو او
وئيل، ما له بپتسمه راکړه. يوحنا نهٔ غوښتل چې هغه عيسی
مسيح له بپتسمه ورکړی. خو عيسی مسيح
ووئيل، داسې وکړه، نو
يوحنا عيسی مسيح له
بپتسمه ورکړه.



14



عیسی مسیح له د
بپتسمې ورکولو نه
پس یوحنا ولیدل
چې پاک روح د
کونترۍ په شکل په
عیسی مسیح باندې
راکوزیږی. دا د
خدائ پاک د طرف
نه یوه نښه وه.

15



یوحنا ته دا پته وه
چې عیسی مسیح د
خدائ پاک زوئ
دے. یوحنا د عیسی
مسیح په باره کښې
ووئیل چې وګوره دا
د خدائ پاک
رالیږلے شوے مسیح
دے څوک چې به
ټولو خلقو له
خلاصون ورکړی.

16

یوحنا ډیر زیات خلق خدائ پاک ته راوګرځول. خو
هیرودیس چې یو ظالم بادشاه وو هغهٔ یوحنا په قید کښې
واچولو. یوحنا هیرودیس
ته ووئیل چې تا د خپل
ورور ښځه هیرودیاس
خپله ښځه جوړه کړې نو
دا ګناه ده. هیرودیس ته
دا معلومه وه چې یوحنا
بلکل ټیک وئیلی دی.



17

او هغهٔ ته پته وه ې یوحنا د خدائ پاک یو مقدس او صادق
خادم وو. خو هغه د ګناهونو نه توبه ویستل نهٔ غوښتل. خو
یوحنا به بیا هم په خلقو
کښې تبلیغ کولو، تر دې
چې هغه په دې وجه
باندې قید هم شو.



18

هیرودیس د خپل پیداینت په ورځ باندې ډیرلوئ جشن مناؤ
کړو. او د هیرودیاس د لور په ګډیدو باندې هیرودیس
ډیر زیات خوشحاله شو. هیرودیس هغې سره وعده
وکړه چې هغوئ څهٔ هم وغواړی تر دې کهٔ
زما نیم سلطنت هم وغواړی نو زهٔ یې ورکوم.



19

جینئ حیرانه وه او
هغې سوچ کولو چې
زهٔ اوس څهٔ وغوړم.
د هغې مور چا چې د
یوحنا نه نفرت کولو،
څه چې ورته هغې د
غوښتلو د پاره ووئیل
نو هغه ډیر زیات
یرونکی وو.



20



جینئ هیرودیس ته ووئیل، زما د
یوحنا بپتسمه ورکونکی سر په تالی
کښې په کار دے. بادشاه په خپلې
وعدې کولو باندې پښېمانه شو خو
هغهٔ هغه وعده ماتول نهٔ غوښتل.
هیرودیس حکم وکړو چې د یوحنا
نه سر قلم کړئ او دلته یې
راوړئ. او د هغهٔ
سپاهیانو د هغهٔ
حکم ومنلو.

21



د یوحنا ملګرو ډېر په
غم او خفګان سره د
خدائ پاک د ایماندار
او زړهٔ ور خادم ښخ
کړو. کیدے چې هغهٔ
ته پته وه چې عیسی
دوئ له تسلی ورکولے
شی. او د خدائ پاک د
پاره د یوحنا کار اوس
ختم شوے وو.

22

د خدائ پاک رالیږلے شوے سړے

دَ خدائ په کلام په مقدس کتاب کښې دا قیصئ

شته دے

مرقوس ٦، لوقآ ١، ٣

"ستا دَ خبرو تشریح نُور بخښی ."
زبور 130:119

23

# ختم شو

37 60

24

دا قیصئ مونږ ته زمونږ د حیرانونکی خدائ په باره کښې ښودنه کوې چې چا
مونږ پیدا کړو او چې څوک غواړی چې هغه مونږ وپیژنو.

خدائ پوهیږی چې مونږ ډیر علط کارونه کړی دی، چې هغې ته هغه ګنا وایې.
د ګنا مزدوی مرګ دے خو خدائ مونږ سره ډیره مینه کوې نو ځکه هغهٔ خپل
یک یو زوئ راولیږلو چې هغه زمونږ د ګناهونو د خاطره سزه وزغمې او په
سولئ خپل ځان قربان کړې.او بیا عیسی د مړو نه ژوندے شو او آسمان ته
لاړو. کهٔ تهٔ په عیسی باندې ایمان راوړې او د هغهٔ نه د خپلو ګناهونو بخښنه
غواړې نو هغه به تا ته بخښنه وکړې. هغه تا خواته راځی او ستاسو دننه به
استوګنه کوی او تهٔ به هغه سره د همیشه د پاره ژوندے اوسیږی.

کهٔ تهٔ په دې ایمان لرې چې دا رښتیا دی نو خدائ ته ووایه.خوږه عیسی زهٔ
ایمان لرم چې هم تهٔ خدائ یې. تا زما د خاطره پیدا شوې او زما د خاطره مړ
شوې او اوس تهٔ د تل د پاره ژوندے یې. زما په ژوند کښې راشه او زما
ګناهونه وبخښه، چې زهٔ هم د نن نه ژوندون ومومم او د همیشه د پاره تاسره یم.
زما مدد وکړه چې زهٔ ستا تابعداری وکړم او ستا زوئ یا لور جوړه شم. آمین
مقدس کتاب ولولئ او خدائ سره روزانه خبرې وکړئ، یوحنا۳:۱۲

25